ازگزارش نیوز ویك وتایز برمی آید که کل نفوس پرومیسکوی هشتصدوهفتاد نفراست و این قصبه کوچك تحمل این حمله بزرگ راهرگزنداشت ، چنانچه درنتیجه این جنگ که سراسر قصبه مذکوربه میدان جنگ تبدیل گردیده بود هرجا اجساد افراد بی گناه بحال مرده دیده می شد درنتیجه این حمله داغستان نیزصدمه برداشت ، این حمله بخاطر رهائی گروگانان صورت گرفت ولی بیشتر قربانیان آن خود گروگانان شدند ، روسها درین حمله ازمزایل های گراد ، تانك های سنگین وطیارات جنگی استفاده کردند . روسها موفق شدند ازجمله یکصدوبیست گروگان چهل وسه تن آن را رها کنند درحالیکه دربارہ هژده نفر دیگر چنین فکرمی شود که مرده باشند . یك صاحب منصب روسی ابراز داشت مبارزین چیچن چون شیران می جنگیدند واین همه میزایل های گراد ، هیلی کوپتر های غول پیکر، تانك های سنگین وطیارات جنگی نتوانستند مورال آن ها پست کنند . ضعف و ناتوانی عساکر روسی را ازین میتوان قیاس کرد که باوجود اینکه قصبه را ازهرطرف به محاصره کشانیده بودند موفق نشدند مبارزین چیچن را از عقب نشینی جلوگیری کنند وآنها موفق شدند مرز راعبور نموده به جاهای محفوظ مخفی شوند . یکی ازگروگانان بنام علیوف که موفق شد ازچنگ مبارزین چیچن نجات یابد اظهارداشت که مبارزین چیچن هنگام عقب نشینی زخمی های خویش را باخود بردند .

یلتسن اظهارمیدارد که درین حمله یکصدوپنجاه وسه تن ازمجاهدین چیچن

او می گوید حماقت وبی دانشی یلتسن را ازین میتوان قیاس کرد که اناتولی معاون صدراعظم ونماینده حزب لیبرال را به اتهام استفاده شخصی از اثاثیه دولتی برکنار کرد وبه عوض او کسی را به این پست گماشت که قبلاً به اتهام آلوده بود .

مبارزین چیچن نه تنها در روسیه بلکه بیرون ازآن درترکیه یك کشتی را ربوده دوصدوچهل نفرروسی سوار برآن را گروگان نمودند واعلان داشتند اگر در پرومیسکوی حمله و کشتارروسها متوقف نگردد این گروگان ها کشته خواهند شد . ازین برمی آید که روسها نه تنها در داخل روسیه بلکه دربیرون کشور نیزازتعرض وحمله مبارزین چیچن مصئون نمی باشند .

سلمان رادایوف یك تن ازمبارزان چیچنی ابرازمیدارد که چون جهانیان به معضله ما چندان توجه مبذول نمی دارند و در رابطه با حل قضیه چیچین هیچ اقدام مثبتی صورت نمی گیرد لذا ما به جهادو مبارزه خویش ادامه میدهیم ازآن دستبردارنمی شویم .

وی بطرف اتحادیه اروپا اشاره کرده گفت اگرمیخواهید جنگ وکشمکش پایان یابد خاموش نه نشسته بلکه داخل اقدام شوید ودرجهت حل این بحران تلاش نمائید .

درین همه کشمکش اگر از یکطرف مبارزین چیچن صدمه می بینند ، خانه و دیارشان ویران می شود ، آنها به شهادت می رسند ازطرف دیگر یلتسن نیزشدیدامورد انتقاد قرار می گیرد که تلاش دارد تا قبل از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری ازنظرنظامی برتری حاصل کند. زیرابسیار احتمال میرود بحران چیچن او را به شکست دراین انتخابات دچارکند .ناگفته نماند که جنرال الگزاندرمیخالکوف قبل ازین بخاطر شکست درمقابل مجاهدین چیچن ازوظیفه اش برکنار گردیده است . قبل ازین اوشکست خویش را پنهان نموده اظهار داشته بود که مجاهدین چیچن تمام گروگان های روس را به قتل رسانیده اند که به انتقام آن تمام مبارزین چیچن را نابود خواهیم کرد ، لاکن برعکس درحمله برپرومیسکوی او سخت شکست خورد وهنگام بازگشت ازآنجا ازسمتش به همین علت سبکدوش گردید.

> این افواج روسی است که به جنگ وتجاوزخویش علیه مردم بی دفاع چیچن ادامه میدهند ، که باعث می شود مبارزین ومجاهدین این خطه نیز عکس العمل نشان دهند. چنانچه گروگان گیری درمنطقه کزلیار وازین نوع فعالیت های دیگر از طرف مجاهدین چیچن رادرهمین راستا میتوان قلمداد کرد.

> واقعات وحادثاتی که در گذشته درسرزمین چیچن رونما گردیده بویژه حمله بر پرومیسکوی که باسلاح های خیلی سنگین اجراشد ، دال بر ظلم ووحشت روسها وپامال نمودن علنی حقوق انسانی از طرف آنهاست .

به شهادت رسیده اند درحالیکه به قول گروگان آزاده شده اکثر مجاهدین موفق شدند سرحد را عبور کرده به جاهای محفوظ مخفی شوند .

یلتسن که به علت تجاوزوظلم بالای مردم بی دفاع چیچن موقف خویشرا درانتخابات ریاست جمهوری متزلزل نموده است ، حواسش ازکنترول بیرون شده به حضورخبرنگاران و روزنامه نگاران با سردادن داد وفریاد، مجاهدین چیچن را می کوبید و آنها را ناسزا می گفت . یکی از رهبران حزب مخالف یلتسن ابرازمیدارد که این همه نتیجه پالیسهاي احمقانه یلتسن است که صورت می گیرد .

په یوګنداکی دمسلمانانو تاریخی پس منظر

د واکترعلی کتانی د رپو ټ سره سم د یو ګندا په ۱۳ میلونه نفوس کی شپیته لکه د مسلمانانو شمیردی چی د ټول نفوس ٤٥ فیصدی تشکیلوی ، په غربی نیل ، ماوی ، آشولی بانیورو او دمبالي په ولایتونوکی د مسلمانان اکثریت دي، په کمپالا کی هم زیات شمیر مسلمانان ژوند کوي په یو ګندا کی دوه زره مسجدونه آباد دي او لـه دوه زرونه زیات مسلمانان هرکال حج ته ځی ، قرانکریم هم دیو ګندا په ژبه ترجمه شوی او هرچیرته په پوره آسانی ترلاسه کیدای شی دینی مدرسي ښه په زیات شمیر کی دی مکتبونه اولیسی هم فعالی دی،

واکتر کتانی لیکی چی یو ګندا ته په ۱۸۳۹ ع کال کی اسلام رسیدلی ، د یوګندا پاچا کباکاستا دویم د عربو له تجارانوسره دلیدني اوکتنی نه وروسته له اسلام نه متأثر اوله هغوی نه ئي د

حکومتی چارو د جوړولو په باره کی مرستی وغوښتلی ،عربانوته یوازی د هیواد دنظم اونسق په جوړولو کی په زړه پوری مرستی وکړی بلکی پاچائی هم اسلام ته دعوت کړ اګر که پاچا اسلام قبول کړ لیکن دخپل قومی رسم او رواج له مخی د ماشومانو سنتولو(ختنی) ته ئي غاړه کښنیښوده ، خو چی مسلمانانو ډیرزیات اصرار وکړ نو بیرته مرتد شو دهغه په وخت کی اسلام تردیر لری لری ځایو پوری ورسید او ډیرخلك مسلمان شول د اسلام په خوریدو کی لوی لاس د یـو ګندا دپاچا رستیال د موتیسا هم دی چی مسلمانان ئی د یوګندا دلمړنی مبلغ په نامه یاد وي ،عیسویانو هم پـه یو ګندا کی خپل فعالیت شروع کړ اوبالاخره عیسوی مبلغین هم پادشاهی دربارته ورسیدل او دهغوی د شیطانات له کبله دمسلمانانو اوعیسویانو ترمنځ سخت جنګ پیل شو، لیکن د انګریزانو د مداخلی په وجه مسلمانانو جنګ بایلود او زیاتو مسلمانانو دیوګندا هغو ځایونوته پناه ویوړه چی د انګریزانو ترلاس لاند ي و ،مسلمانانو بیاهلته د اسلام ددین تبلیغ وکړ اوښه کامیابی ئی ترلاسه کړه په ۱۹۰۰ عیسوی کال کی د انګلستان او یو ګندا ترمنځ یوه معاهده لاس لیك شـوه چي دهیواد له شلو

ولایتونو څخه اتلس عیسویانوته او دوه ئي مسلمانانوته ورکړل همدا راز د حکومت لوټي لوټي چوکی هم د عیسویانو په لاس کی ورکړل ، خو دموتیسا اول وروړ رحوموانګا چی مسلمان شوی و دکوششونو اوهلوځلو پـه نتیجه کی

دمسلمانانو اوعیسویانو ترمنځ ضد اوعناد ترڅه حده کم شو اومسلمانانو د آرام سا واخیست کله چي موانګاه وفات شو نو دهغه ځوی شهزاده بدروکاګن ګولو د هغه پرځای د مسلمانانو مشروټاکل شو چی تراوسه ژوندي دي او دمسلمانانودمقبول او محبوب لیډر په نامه یادیږی .

شهزاده بدرو د آسیا له مسلمانانو سره اړیکی پیدا کړی اوله هغوی نه ئي ښی ډیری مرستی ترلاسه کړی دلسو کلو په موده کی له پنځوسو نه زیات مکتبونه

دیرش جماعتونه او نور د کسب اوهنر اداری جوړی کړی ، یوګندا لدی نه مخکی د انګریزانو ترتسلط لاندی و خو په ۱۹۶۲ عیسوی کال کی ورتـه آزادی ورکړی شوه ، بیاپه ۱۹۶۷عیسوی کال کی هیواد په جمهوری نظام بدل کړی شو او په ۱۹۷۱ ع کال کی یو مسلمان صاحب

منصب عیدی امین پرحکومت قبضه وکړه، خو امریکا اونورو غربي هیوادونو د عیدی امین حکومت ونه مانه اوټولی مرستی ئي وربانډی بندی کړی اسرائیلو هم دتنزانیاپه

مرسته د یوګندا په هوائی اډه حمله وکړه او زیات نقصان ئی ورته ورساو . بیا په ۱۹۷۹ ع کال کی باغیانو د تنزانیا په مرسته د عیدی امین پرحکومت لویه حمله وکړه او په ټول هیوادئی قبضه وکړه عیدي امین وتښتیدو او س د جلاوطنی ژوند ترسره کوی .

پدی وخت کی عیسویانو د مسلمانو پرخلاف ډیرظلمونه وکړل او بی دریغه قتل عام ئي وکړو چی په نتیجه کی ډیر مسلمان مشران له هیواد نه بهر په هجرت مجبورشول اوزیاتوئی په هیواد کی دننه

خپل ځانونه پټ اوغلي کړل ، پدی نازك وخت کی شهزاده بدرو یو ځلی بیا میدان ته ودانګل اوخپل ذاتی اثر رسوخ له لاری ئي مسلمانان له قتل عام نه بچ کړل ، هغه له مسلمانانو څخه وغوښتل چی له صبر او

استقامت نـه کار واخلی اوپراسلامی احکامو بشپړعمل وکړی ، نوی حکومت هم دیته غـاړه کیښوده چی بدرو د مسلمانانو مشر ا وترجمان په صفت ومنی ، بدرو بیا جلاوطن او روپوش مسلمانو مشرانو سره له صلا اومشوري نه وروسته خپل فعالیت ته دوام ورکړ چی په نتیجه

خورا لویه کامیابی ئي ترلاسه کړه هلته اوس د مسلمانانو د ژوند او فعالیت فضا ډیره ښه شوی او په آزادانه توګه کولی شي چی پخپل دین عمل وکړی اوخپل اسلامی تشخص په حال وساتی دا د شهزاده بدرو او دهغه د ملګرو د همت نتیجه ده چی په یو ګندا کی بنی ډیری مدرسي ، مکتبونه او دینی اداری فعالی دی اومسلمانان خپل نسل ته د دین په رڼا کي تربیت ورکوی .

داسی معلومیږی چی ...

ځواب : دا عبوري حکومت خرینځه سره کسیزي شورا جوړکړي و البته ددي غونډي رابللو لپاره مازیاتي هلي ځلي کړي وي، دایوحقیقت دي چي تراوسه پوري دومره لویه نماینده غونډه نده جوړه شوي .

دروسي پوځونو له انخلائه څوروځي مخکي د۱۹۸۹ کال دجنوري په ٥ مه کي داغونده وشوه خودبینظیري په ماني کي هم یوغونډه وشوه هلته ماته ویل شوچي داغونډه به هیڅ نتیجه ورنکړي بیا سباته اخبارونوته یـو منفي مسوده وسپارلي شوه اخبارونه سبـاته دمنفي تبلیغاتو، ډك وو اوزمادنظراوراپي هیڅ یادونه نه وه شوي، په هرحال دفبروري په ۲٤ مه شورابوعبوري حکومت منتخب کړ ، ما پاکستاني واکمنوته وویل که تاسي داعبوري حکومت په رسمیت وپیژني نودهغه تقصاناتونوچي دجنیواپه معاهده کي شویدي تلاڅي به وشي، لیکن هیڅا زما

داخبره ونه منله ، دسعودي عربستان په شمول پنځوهیوادونو داحکومت په رسمیت وپیژندلو خو دپاکستان دنه منلوپه وجه څه خاصه ګټه ونه رسیده په پنځم دمارچ چي شورا زیاتره ارکان هم موجودوو ماته دافغان مسئلي په یوه خصوصي مجلس کي دشریکدو دعوت راکړي شوي و، کله چي زه دفترته داخل شوم نوګورم چي دامریکاسفیر رابرت اوکلي هم ناست دي، دالومړي ځل وو چي په یوه داسي حساس اومخفي مجلس کي دامریکاسفیرناست وو

په هرترتیب صدراعظمي بي نظیربوټو دافغانستان دعبوري حکومت دپه رسمیت پیژندلوپه لړکي ، دبهرنیوچارو اداري له خوادتیارشویو شرایطو یوفهرست وراندي شو.

دامریکا سفیر ښاغلي اوکلي هم په حاکمانه بڼه خپل شرایط وړاندي کړل ، ماهم خپل نظریات پـه پوره قوت څرګندکړل خوبي نظیربوټو ویل چي

ترڅودافغانستان مجاهدین په کوم لوي ښارکنترول ترلاسه نکري ،عبوري حکومت څرنګه په رسمیت پیژندلاي شو؟

ماورته وویل چي دفلسطین دآزادي سازمان سره یوه انچ ځمکه هم نشته ، خوتاسي هغه په رسمیت پیژندلي او عرفات ته مودیوه هیواد دمشر حیثیت ورکړي .

په هرصورت تراوږده بحث وروسته بي نظیربوټو وویل دافغانستان موقت حکومت یوازي پـه هغه صورت کي په رسمیت پیژندلاي شـو چي لاندي دري شرطونه پوره کړي :

لومړي داچي مجاهدین دافغانستان دکوم لوي ښار کنترول ترلاسه کړي . دوهم داچي ظاهرشـاه ددي موقت حکومت په ملاتړ خبره و کـړي . او دریم داچي باید پدي حکـومـت کي دایران دملاتړ درلودنکي مجاهدینواستازي هم باید شریك کړاي شي .

پوښتنه : نوبدي اساس ویلاي شوچي دجلال آباد عملیات دهمدي شرایطونه متأثرروو ؟

ځواب : تاسي داسي هم ویلاي شي ، خومجاهدینو لدي امله چي جلال آباد نژدي ښارو، پدي ښارباندي یي دعملیاتو پلان

جوړولو .

اوډپاکستان حکومت هم دي کارته وهڅول . نصیرالله بابر یدي کارکي په بشپړه توګه شریك وو،ترهغي وروسته چي څه وشول یاآوس کیږي هغه باید دوجینوا » دترون په کڅوره کي وغورځول شي .

پوښتنه : . دجینوا دترون ترلاسلیك وروسته بیا کومه داسي مرحله رانغله چي دامسئله په ښه توګه حل کړاي شوي واي ؟

ځواب : زماپه نظر پدي سفرکي دري مهمي اوپریکنده مرحلي راغلي داسي چي کیداي شواي پدي مراحلوکي دا معامله سمبال شي، خوزمونږ سیاسی قیادتونو دکم نظري مظاهره وکړه ، اوډجهاد دثمراتو دراټولو استعداد یي ونـه ښوداي شواي .

اوشوروي دمنتخب حکومت په رسمیت پیژندل وو، خوزمونږ حکومت له هغي څخه ډډه وکـړه . دریمه مرحله دپیښور دترون په وخت راغله ، پدي مرحله کي دوه لویو تنظیمونوته دیوشان حیثیت ورکولو پرځاي ددي هڅـه وشوه چي حکمتیارپه خپله یـوه خواکري اودهغه تنظیم ته څـه نمایندګي ورکړي . پردي سربیره یي مجددي صاحب یوي خواته دکابل پرتخت کښینولو ، خوبل خوا یي دروسي پرغلګرپوځ مرسته کونکي عناصرخلع سلاح نکړل لدي امله خلقیان یوي خواته شول اوپرچمیان بل خواته . داقساد ترنته پوري دوام لري. جونیجو یي نظراونوازشریف دري واړه ددي موافقوپه اهمیتونه پوهیدل اونن داسي ورځ ده چي

> جونیجوصاحب ماتـه د معلوماتو دیرکولو اشاره وکړه ،مادپارلمان په وړاندي هغه ټولي خبري بیاتکرار کړي کومي مي چي یوه ورځ مخکي کابینې ته کړي وي . پـه ټولو اړخونومي رڼاواچوله اوهرڅه مي په صفاصفاتکوبیان کړل .ماولیدل چي ددیرو غړیو په سترګوکي اوښکي ځلیدلي ، کله چي ماخپلي خبري ختمي کړي نوجونیجو صاحب وویل : پوښتني په نشي کیداي اوهیڅوك به دپوښتني کولو کوشش نکوي.

> وسیم سجاد په ډیر تریخ اواز وویل : مـوږ خو به خامخا دخپلوګټو لپاره ګام پورته کوو، ماهم ورتـه پـه همداسي لهجه وویـل وزسره : زه چي څه وایم په هغـه ډیرښه پوهیږم.

له اسلام آباد څخه دغیرملکي هڅو مرکز جوړشوي دي . او مونږ په افغانستان کي دنورو دلوبي دترسره کولو لپاره خپله ځمکه اوخپل خدمت وړاندي کړي .

لومړي مرحله دجینیوا معـاهده وه ، که پدي ترون کي دموقت حکومت دجوړیښت شرط شامل کړای شوي واي نوقضیه به ختمه شوي وه . دوهمه مرحله دافغانستان

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۰۸٦) سال هژدهم دوشنبه (۷) حوت ۱۳۷٤

قیمت یك شماره (۳۰۰) افغاني ۳ روپیه

نبوی لارښوونې

له حضرت ابوهریرة(رض) نه روایت دی چی حضور(ص) نه چا پوښتنه وکړه چی په ښو کارونوکی کوم کار ډیر بهتردی .

حضور(ص) وفرمایل : په الله او رسول ایمان راوړل . پوښتنه وشوه بیا کوم بهتردي . حضور(ص) وفرمایل : جهاد فی سبیل الله پوښتنه وشوه . بیا کوم بهتردی حضور (ص) وفرمایل : حج (چی حاجی پکښې د شریعت خلاف کار ونه کړی) .په همدی ارتباط په یوبل حدیث کی حضرت ابوهریره (رض) وایی چی حضور(ص) فرمایلی دی چی عمره د بلی عمر ی ترمنځه د ګناهونو کفاره ده (ګناهونه معاف کوی) او د مبرور حج بله بدله نشته بي له جنته .

(بخاری - مسلم)

احکام دین خودرابیاموزیم

اهمیت وفضیلت نماز

* «یك مرتبه رسول کریم صلي الله علیه وسلم ازصحابه کرام پرسیدند که اگر در دروازه کدام یکي ازشما نهري جریان داشته باشد ووي روزانه پنج مرتبه درآن خودرابشوید ، آیامیتوان گفت که دروجود آن گردوغبارياعرق باقي بماند .

صحابه کرام (رض) عرض کردندکه برجسم آن ذره، گرد وغبارياعرق باقي نمي ماند .

ایشان صلي الله علیه وسلم فرمودند که اینگونه است اثرات پنج وقت نماز، خداوند متعال بوسیله این نمازها گناهان رااین چنین محومینماید» . (بخاري ،مسلم ازابي هریرة)

* حضرت علي کرم الله وجهه میفرمایدکه :«پیامبرگرامي صلي الله علیه وسلم درآخرین لحظات حیات این کلمات را درزبان خویش تکرارمیکردند . نماز نماز» .

داسې معلومیږي چې په

مشرانو دغونډي په باب څه تبصره کوي ؟

ځواب : حکومتي سرچینودغه غونډه دوړباني دمخالفوځواکونو» دغونډي په نامه تبلیغ کړه چي داپه هیڅ ډول سمي خبره نه ده . دادافغانستان په کورنیو چاروکي براالا لاسوهنه ده ، موږ هیڅکله داحق نلرو چي دافغان مجاهدینو ډیري ولي دمخالفت لپاره نورې ولي سره رایوځاي کړو دربانۍ تنظیم «جمعیت» او «دحکمتیار» حزب اسلامي دواړه دافغانستان داسلامي خوځښت مهمې ستنې دي ، دهغوی ترمینځ اختلاف اچوونکي نه داسلام دوست کیداي شي نه دافغانستان اونه دپاکستان، داپوره پوال سازش دي چي ترټولو مهم مقصدئې دافغانستان په لانجه کي دایران ښکیلول اوبیاداسي یوحالت مینځ ته راوستل دي چي دپاکستان او ایران ترمینځ تاوتریخوالي تردي هم زیات شي، له قرائنونه داسي معلومیږي چي په افغانستان کي یوه نوي لوبه پیلیدونکي ده دهرات پخواني والي اسماعیل خان دطالبانوله ولکي نه دهرات دآزادولو لپاره دایران په خاوره کي پرطالبانودبریدکولو تیاري نیسي دیوداسي حالت په پام کي نیولو سره اسلام آباد غواړي دربانۍ مخالفي ډلي دطالبانو ترڅنګ ودروي ، دبادغیس ولایت هم دطالبانو په ولکه کي دي اودهغه شمال لویدیځ ته دفاریاب ولایت له دوستم سره دي ، له دوستم سره په ځمکني لوي ځواك پرسیره هوائي ځواك هم شته داسماعیل په وړاندي دطالبانو اودرباني دټولو مخالفو ځواکونو دراپوځاي کولو منصوبه په هیڅ ډول دپاکستان په خیرنه ده، رشیددوستم په اسلام آباد کي ترګنده کړه چي که دطالبانو په ګډون دمخالفینو په یوې ډلې هم بریدوشي دابه پرټولو ډلوحملي په ماناوي او موږ به په ګډه دهغې مقابله کړو داسلام آباد په مذاکراتو کي طالبانوله سره برخه نه ده اخستي نوبیا دهغوي په ملاتړ دومره مهم بیان دچاپه خوښه اودچاپه اشارو سره ورکړل شو؟

څرك دي چي دطالبانو اورشیددوستم ترمینځ دروابطو دکړي حیثیت لري ؟

ښکاره خبره ده چي داهم زموږ دبهرنیوچارو وزارت دي . له یلې خوازه دي مذاکراتو ته دایران دراګیرولوپه لړکي دامریکي دهیلو له زاویوڅخه هم ګورم چي یومقصد ئې ددوستم اوحکمتیار ترمنځ دبې باوري اوغلط فهمیو راپیداکول دي .حکومت اوحکومتي خبري سرچینو چي درشیددوستم څومره درناوي وکړ او په کوم ډول سره ئې چي دحکمتیار دمقام اومرتبې راګمولو زیارویوست پرهغې ځان پوهول څه ګرانه خبره نه ده ، په مطبوعاتي کانفرنس کي دحکمتیار داوبناچي «درباني له استعفي پرته هم له هغه سره خبري کیداي شي» دمذاکراتو دورامي دجوړوونکو په عزائمو باندي سخت ګوزارو .

زما دپاره داخبره هم دحیرانتیا وړده چي دصدراعظمي ، دبهرنیوچارو دوزیر اودبهرنیوچارو دسکرتر دري واړو دهیوادڅخه دغیرموجودګي په دوران کي دومره حساسي مسئلي په باب دپاکستان نمایندګي چاوکړه ؟ آیا د کراچي په څیرافغانستان هم دنصیرالله بابر رحم وکرم ته پریښودل شو؟ زموږ واکمن دي ملي ګټوته پام وکړي ، اودپاکستان دجهاد حقیقي پس منظرته په کتوسره دي دجهادي قوتونو ترمینځ ښې اړیکي ټینګي اوپه دي لړکي دي خپل ګردارترسره کړي له یوې ډلي سره په لاس یوکولو دبلې ډلې پرخلاف ګام اوچتول ستره

اشتباه اوناعاقبت اندیشه کاردي . آیا نړیوال دانه وینې چي دپاکستان اوسني حکومت دربانۍ په دښمنۍ اودطالبانو په ملاتړکي ترکومه حده لیرې تللي دي ؟ دطالبانوترولکې لاندي سیمو کي دپاکستان دولتي مغازي پرانستل کیږي، تیلفون اوداسي نوري آسانتیاوي ورته برابریږي اوکابل ددښمن کلاګڼل کیږي . هرات کندهار، مزارشریف ، جلال آباد په هرځاي کي زموږ قونسل خاني شته خو دکابل سره ټولي اړیکي پري شوي دي دربانۍ دمخالفو ځواکونو دراغونډولو مقصدڅه دي؟ غواړم داخبره مي ثبت شي چي که اسماعیل خان پرهرات بریدوکړي نودپاکستان اوایران ترمینځ به هم غیرمستقیمه جګړه شروع شي .

پوښتنه : دروسي پوځونو دانخلا اووم کال دي لیکن افغانستان تراوسه پوري دجهنم په بڼې کي وتیږي . هغه کوم وخت وچي دافغانستان جهاد خپل اصل مسیرپریښود ؟

ځواب : صدیقي صاحب : هغه وخت چي زه یادوم نوزما له زړه نه وینې څاڅې اوله سترګونه مي اوښکي بهیږي دادجینوا دمعاهدي وخت و، جونیجوصاحب دخپل خاص مقصد په خاطر دمعاهدي لپاره هلي ځلي کولې ، خودافغانستان پرجهاد دحکیمانه اومدبرانه نظرخاوندان پدي عقیده وو چي معاهده دي په افغانستان کي دیو عبوري حکومت له جوړیدوسره مشروط کړي شي ۲۰ جنوري ۱۹۸۸ ع کي محمدخان جونیجوله سنډهري نه ماته تیلفون کي ووېل چي باید په قومي اسمبلي کي دافغانستان په باب خپل معلومات وړاندي کړم ځکه چي دجینوا معاهدي په لړکي دپارلمان اجلاس راغوښتل شوي، کله چي زین نوراني له سعودي عرب ، امریکا ، انګلستان اودچین له سفرنه واپس راغی نوپه ۲۹ فروري ئې دپارلمان اجلاس راوغوښت، لدي نه یوه ورځ مخکي دصدراعظم په مقرکي دکابیني اجلاس هم وشو اوزه ئې دمعلوماتو ورکولو لپاره راوغوښتم ، زین نوراني دجینوا دمعاهدي کلکه طرفداري وکړه او وېې ویل چي ټول هیوادونه دمعاهدي پلوي دي او پرموږ دمعاهدي کولو تاکید کوي، کله چي ماته دراي داظهارنوبت راورسید نو ما تفصیلي اوهراړخیزمعلومات ورکړه اوومې ویل چي دخداي په خاطر دومره وارخطایي مکوئ، که پرمعاهده دستخط وشي که ونشي په دواړو صورتونوکي روس له افغانستان ینې سپکوي اوددي خبري اعلان پخپله ګورباچوف هم کړیدي، موږته پکاردي چي دامسئله دمحدودومفاداتو په تناظرکي نه بلکي دپراخو ګټوپه تناظرکي وګورو ، که دعبوري حکومت له شرط نه پرته معاهده وشي نوموږ به افغانستان له یوې اوږدي کورنۍ جګړي سره مخامخ کړو، زماداخبره به په یقیني توګه دکابیني دبحثونوپه کتاب کي درجي وي اودسندپه توګه به محفوظې وي، لیکن دډیرافسوس چي کابیني خپلې منطقي نتیجې ته دجهاد درسولو پرځاي دخپلې معمولي ګټي په خاطر زماخبروته هیڅ توجه ونکړه اوپخپل غلط دریځ باندي کلك شول، وسیم سجاد په ډیر ترخ اواز ووېل : موږ خپله خامخا دخپلوګټو لپاره ګام پورته کوو، ماهم ورته په همداسي لهجه ووېل وزیره : زه چي څه وایم په هغه ډیرښه پوهیږم . دزین نوراني رپورت بالکل صحیح ندي موږ هم دمعلوماتو ډیرې ذریعې اولاري لرو، مارګریټ تیچرویلي دي چي پاکستان دي معاهده وکړي لیکن لدي نه مخکي دي دخپلو شکونو دلرې

کولو پوره حق لري ، امریکاهم دهمدي ډول معاهدي مرسته کوي، چین ویلي چي پاکستان دي دخپلوګټوپوره حفاظت په نظرکي ونیسي ، سعودي عرب ویلي چي زموږ دریځ دپاکستان دریځ دي داکترمحبوب الحق ، ملك نعیم ،راناتعیم اوصدیق کانجوهم زمادخبروملګرتیاونکړه بلکي بې ځایه پوښتني ئې راته شروع کړي ، هغوي دخپل صدراعظم جونیجوخوشحالول مقصدو، له بحث اوبریفنګ څخه وروسته جونیجوووېل : ځکه چي دجینوامعاهدي په حق کي دي هغوي دي خپل لاسونه اوچت کړي، دکابیني ټولو غړو لاسونه پورته کړل اوجونیجوته ئې دمعاهدي کولو اختیارورکړ، په هغه ورځ شهزاده ترکي الفیصل هم راغلی و اوجونیجو ورته دغرمې ډوډۍ کړې وه زه هم پدي ډوډۍ کي شریك وم ماجونیجوته ووېل : تاسي دزین نوراني اوزماخبري پریږدئ پخپله له ترکي الفیصل نه پوښتنه وکړئ چي دسعودي عرب دریځ څه دي؟ ځکه چي موږ انتهائي مهمه فیصله کوونکي یو، ترکي الفیصل ووېل : زموږ دریځ همغه دي کوم چي پاکستان ځانته غوره کړي، هغه دشاه فهد یوه اخباري تراشه هم موږته راښکاره کړه چي هغه په ښکاره توګه ویلي وو چي کوم دریځ پاکستان غوره کړي مونږئې ملاتړکوو اوپه هرحالت کي به دپاکستان ملګرتیاکوو ، خو پر جونیجو ددغوخبرو هیڅ اثرونه شو، هغه راته ووېل سباته دپارلمان اجلاس دي لیکن تاته دبریفنګ کولو هیڅ ضرورت نشته البته ګډون پکي خامخا وکړئ .

پوښتنه : ایا پارلمان هم دکابیني فیصله منظوره کړه ؟

ځواب : په هغه ورځ زه عجیب ذهني کشمکش اوپریشاني کي اخته وم، ټوله شپه مي په جاي نماز باندي په لمونځ اوزاري تېره کړه ، دالله حضورته مي لاسونه پورته کړي اوومې ویل: یارب العالمینه خدایه ! پدي فیصله کن اوسرنوشت سازساعت کي ماته دحق اوحقانیت ښکاره کولواوګواهي ورکولو قوت راکړې، بله ورځ په شخصي کالیوکي پارلمان ته لاړم خوځرنګه چي جونیجوصاحب زه دبریفنګ له ورکولونه منع کړي وم نوماهم څه خاصه تیاري نه وه نیولي، ضیاء الحق صاحب هم موجود و خوپدي وخت کي کوم ژورنالست ته دعوت نه و ورکړې شوي، زین نوراني اومولانا کوثر نیازي ښه پرجوشه تقریرونه وکړل، پدي وخت کي جاوید هاشمي ودرید اوله ډیرنه یوك آواز سره ئې ووېل : جونیجوصاحب ! موږ تقریرونوته هیڅ ضرورت نلرو، که ستاپه مغزوکي څه دي نوموږته ئې راووړه که نه نو حمیدګل صاحب ته ووایاست چي موږله حالاتونه باخبره کړي ، جونیجوصاحب ماته دمعلوماتو دورکولو اشاره وکړه ،مادپارلمان په وړاندي هغه ټولي خبري بیاتکرار کړي کومي مي چي یوه ورځ مخکي کابیني ته کړي وې . په ټولو اړخونومي رڼاواچوله اوهرڅه مي په صفاصفاتکیبیان کړل ماولیدل چي ددیرو غړیو په سترګوکي اوښکي ځلیدلي ، کله چي ماخپلې خبري ختمې کړي نوجونیجو صاحب ووېل : پوښتني به نشي کیداي اوهیڅوك به دپوښتني کولو کوشش نکوي ، لیکن عابده حسین ووېل موږته داحق حاصل دي چي پوښتني وکړو، لدي نه پس دپوښتنوپړاو شروع شو، پدي ټول وخت کي ضیاء الحق صاحب غلي ناست و اوهیڅ ئې نه ویل، دپارلمان ټولو غړوپه یو آوازووېل چي دعبوري حکومت دجوړولو له شرط نه پرته دي دجینوامعاهده لاس لیك نشي .

پوښتنه : ایا دپارلمان رایه له نظره وغورځول شوه اودکابیني رائي ته ترجیح ورکړل شوه ؟

ځواب : هوبالکل همداسي وشول، دسیاسي حمایت لاسته راوړلوپه خاطر جونیجودضیاء الحق ،مخالفین سره راغونډ کړل اوکل جماعتي کانفرانس ئې راوغوښت پدي کانفرنس کي ټول ګوندونه دعوت شوي وو چي ټول عمرئې دضیاء الحق مخالفت کړي و اودافغانستان دجهاد هم سرسخت مخالفین وو، جهاد او مجاهدینوته به ئې ښکنځلې کولې، مهاجرینوته به ئې پردي مزدوران اودهشت

ګردویل ، پدي غونډه کي داسي خبري هم وشوي چي دسړي سرله شرم نه کښته کیږي ، نوراني صاحب وویل : له ځانه دسپي له ویستلوپرته اوبه نه شي پاکیداي ، دده له دغې خبري نه مطلب داوچي ترڅو ضیاءالحق ختم نکړاي شي نویوه مسئله هم نشي حل کیداي ؟ اسلم خټك صاحب وویل : موږ دداسي ناپاکو خبرو کولوته هیڅ ضرورت نلرو په هرحال دغه کانفرنس ته دملي نظریووالي دتوم په ورکولو سره دمنتخبوارکانوراني مستردي کړي شوي اوخپل ځانته ئې لاره آواره کړه ، دادهغه دجینوامعاهدي دسرطان وینه ده چي ترننه پوري څاځي .

پوښتنه : تاسي چي کوم افغان عبوري حکومت جوړکړې ؤ پرهغه څه تیرشول ؟

دریم مخ

دبنګلدیش پولیسو دمخالفو ګوندونو څلورتنه مشران نیولي دي

دمیرمن خالده ضیاء دحکومت پرخلاف اعتصاب په ټول بنګلدیش کی د دوهمی ورځی له پاره روان دی

داکه - دکب ٦ مه :

په بنګلدیش کي دحکومت دمخالفینو اعتصاب دوام لري .

دنړیوالو خبري منابعوپه حواله ویل کیږي چي : په بنګلدیش کي دمیرمني خالده ضیا دحکومت دنسکورولو پخاطر دمخالفینو له خوانه داعلان شوي اعتصاب په دوهمه ورځ پرون دبنګلدیش پولیسو ددغه هیواد دمخالفینوځلورتنه سیاسي مشران نیولي دي . دبنګلدیش پولیسو دغونډیو په اړه ویلي دي چي دحکومتي قانون په اساس دوي کولاي شي دغه نیول شوي ځلورتنه مشران تر۳۰ ورځوپوري په بندکي وساتي .

پرون دبنګلدیش یودولتي مقام دمخالفو ګوندونوددي اعتصاب په وجه په بنګلدیش کي ټول دوکانونه اوبازارونه تړلي دي اودترانسپورتي وسایطو چال چلندهم په ټپه دریدلي دي .

دبوشمیر رپوټونو په حواله ویل کیږي چي : دحکومتي پولیسو سره په ښیتو نښتو کي دمخالفینو دنښتو په وجه تراوسه پوري دوه تنه وژل شوي اوله ۷۰ تنوڅخه زیات نورټپیان شوي دي . دهمدي رپوټونو په اساس دبنګلدیش پولیسو په ډاکې اوبوشمیر نورولویو ښارونو کي کلك امنیتي تدابیر نیولي دي .

دروېټر خبري آژانس ته ویلي دي چي تراوسه پوري په وضعه کي دښه کیدو اوحالاتو دارامښیا په اړه کومي نښې نه لیدل کیږي اودپخوا په شان په ټول بنګلدیش کي حالات [illegible] معلومیږي دخبري منابعو دریپوټ په اساس دخالده ضیاء حکومت ددریو لویو مخالفینو عوامي لیګ ، جماعت اسلامي ، اوجاتیا ګوند په غوښته داحتجاجي اعتصابونو اومظاهرو لړي دبنګلدیش په مرکز ډاکه اونورو لویو ښارونو کي روانه ده . حکومتي مقامات دمخالفو ګوندونو غړي په ترورېزم ،تشدد او غیرقانوني فعالیتونو تورنوي .

دپاکستان مشهوره ورځپاڼه «جنګ» په خپله سرمقاله کی لیکی:

دپاکستان اوافغانستان اړیکی احتیاط ته اړتیالری

راولپنډي

دپاکستان مشهوره اولړتیراژه ورځپاڼه جنګ دخپلې پرونۍ ورځې ګڼې په سرمقاله کي دپاکستان اوافغانستان دډیپلوماتیکې اړیکو په باب لیکلي دي چي : دپاکستان او افغانستان په اړیکو کي چي اوس کومه دشك اوبدګوماني فضا راپیداشوي هغه لدي دواړوملکوڅخه دیوه لپاره هم په هیڅ لحاظ ګټوره نده . او نه په هیڅ مرحله کي ګټوره کیداي شي . ځکه پاکستان ایران اوافغانستان پدي سیمه کي هغه دري هیوادونه دي چي دهغوي په خپل مینځ کي اتحاد اوهماهنګي نه یوازي ددوي دپیوواړو لپاره ښه ده ، بلکي په مجموعي توګه ددې سیمې دسلامتي اواستحکام غوښتنه هم همداده چي دادري ګاونډي هیوادونه بایدپه خپلو مینځو کي کوم ډول اختلاف ونلري .

ورځپاڼه همدارازدوام ورکوي : خو ځرنګه چي زموږ دښمنان هم پدي بنیادي حقیقت ښه پوه دي، ځکه نوپه افغانستان کي تراسلامي انقلاب مخکي په بشپړه توګه هڅه وشوه چي دافغانستان اوپاکستان اړیکي باید ښې نه وي ، خوپه افغانستان باندي دروسي یرغل له امله داسي یوه وضعه راپیداشوه چي په نتیجه کي یې ددې شرڅخه دخداي (ج) په فضل سره یوغوره خیرراووت ،هغه داسي چي نه یوازي دافغانستان اوپاکستان ترمینځ پخواني تاوتریخ والي پاي ته ورسیدبلکه دغه دواړه هیوادونه عملاً یو روح دوه قالبه وګرځیدل .اوددي اتحاد نتیجه هم داسي بې مثاله راووته ، دهغه (شوروي اتحاد) چي دنړي له دوو لویو ابرقدرتونو څخه یوقدرت وو، له مینځه ولاړ .

پدي سرمقاله کي راغلي دي : په حقیقت کي چي نن دافغانستان اوپاکستان ترمینځ په کوم ډول داختلافاتو او بدګومانیو فضا راولاړیږي ، اواکثراً دنامعلوماوانه پوهیدونکو عواملوپرېنا ، ددواړو ورونو هیوادونو ترمینځ یونه بواختلاف راپیداکیږي . هغه دانجینرګلبدین حکمتیار په خبره دهماغه قوتونوسازش دي چي د افغانستان اوپاکستان اتحاد هغوي له رسوا ماتې سره مخ کړل .

دجنګ ورځپاڼي سرمقاله همداراز لیکي :

ددې خبري ثبوت دښاغلي جنرال حمیدګل لدي خبري څخه هم معلومیږي چي وایي دافغانستان دواکمنوله خوا دپاکستان سفارت دسوزولو په اشتباه دمعذرت دخبرتردید هیڅ کله ندي شوي .

دغه سرمقاله په پاي کي لیکي : پداسي حالاتوکي دافغانستان اوپاکستان دواړوهیوادو مشرانوته عموماً اوحکومتونوته خصوصاً پکاروه چي دهري خبري سم تحقیق وکړي ، اوبیا پرمخ لاړشي، اوروس اوهند غوندي خپل ګډ دښمنان په آساني سره خپلوګټوسره لوبوکولوته پري نږدي .

ورور حکمتیارته

دمحصلینو د اسلامي تنظیم ناظم اواجرائیه شورا په خپل پیغام کي له مبارکي پرته لیکي دي : موږ دلوي اومتعال خداي (ج) له دربار څخه دهمدي

نیمګړې کوچني اخترله برکته په افغانستان کي دیوه سوچه منتخب اسلامي حکومت جوړیدل ، دجګړو سلاسي بندول اودسولي ټینګښت غواړو.

دبم په دوو

په یوه سرویس موټرکي ځاي پرځاي شوي وو . همدارنګه ترلومړني چاودني یوساعت وروسته دوهمه چاودنه په هغه ځاي کي وشوه چي دصهیونیست رژیم عسکر دجمعې ورځې درخصتي ترلمانځني وروسته پکې راغونډیږي .

رپوټ وایي دبم پدي دواړوچاودنوکي پر۲۵ تنو مړو سربیره ګڼ کسان نورټپیان دي .

دصهیونست رژیم صدراعظم شمعون پریز اودفلسطین دنیمه خپلواك دولت رئیس یاسرعرفات هغه لومړني کسان وو چي دبم چاودني ددې پیښې غندنه یې وکړه اوداکار یې ددوي په اصطلاح دمینځني ختیز دسولې دپروسې دتخریب یوعمل ګڼلي دي . رپوټونه وایي دعرفات ددې وېناسره سره چي په چاودنه کي یې د۲۵ تنویهودانو وژنه غندلي دصهیونست رژیم مقاماتو بیت المقدس اونورو نیول شویو سیمونه یې دفلسطینیانو پرتګ راتګ بندیز لګولي دي .

رپوټونه وایي د اسرائیلو صدراعظم شمعون پریزچي کله دچاودني له سیمې څخه لیدنه کوله، دمتعصبو یهودانو له خوا دتګدو او تیزو جملوسره مخ شو.

شمعون پریز ویلي چي دبهرنیو خلکو له ولې څخه عرفات لومړني بهرنۍ شخصیت وو چي دچاودني دپیښي غندنه یې وکړه .

بل خواخپښي خبري منابع رپوټ ورکوي چي دحماس اسلامي غورځنګ اعلان کړي چي دیرون ورځې دادوه چاودني ددوي کاردي، او داچاودني یې دانجینریحیي عیاش دوژني دانتقام په دود ترسره کړي .

یحیی عیاش دغزي دترانګي یوتکړه انجنیر وو چي دحماس اسلامي غورځنګ دبم جوړوني دځانګي دمشرپه توګه دصهیونست رژیم داستخباراتي شبکي له خواترورشو.

دهماهنګی

مذاکراتوته دوام ورکړل شي اوددي مذاکراتو دبارووره کیدو لپاره باید په جدي بڼه هڅې ترسره شي .

په غونډه کي دا فیصله هم وشوه چي دهماهنګي دعالي شورا دلاموثرګرځولو لپاره باید دټاکل شوي کمیسیون غونډي په منظمه توګه دوام وکړي .

همدارنګه پریکړه وشوه چي دهماهنګي دعالي شورا دفتر هم باید فعال وسائل شي .

په رپوټ کي داهم راغلي چي په جلسه کي دهماهنګي شورا دغړو تنظیمونو ترمینځ دتفاهم اوهماهنګي پراختیاوالي هم ټینګاروشو.

پاکستان آغاز

کنترول طالبان پلان هایی استعماري خویش رابه سرعت انجام میدهد که بازنمودن مغازات و فعال نمودن سیستم مخابرات ازاهداف غرض آلود آن نمایندګي مي کند .

امریکا فهرست جدیدي

درګزارش ګفته شده که حکومت امریکا ازاعمال فـ رهاوسرپات ګوناګون بالاي عراق ولیبیا خورسندبوده وګفته شده است که فشارهاي امریکا علیه ایران ازدیادخواهد یافت .

نیروی هوایی

این درحالیست که سخنګوی قصرسفید اعلان کرده است که طیارات امریکائي عازم بهاماست درنزدیکي کیوبابودند که درحریم هوائي آبهاي بین المللي نفتي کیوبا سرنګون شده اند .

احتمال ائتلاف

وي تاکید کردائتلاف باحزب رفاه روند سیستم سیکولیزم ترکیه رابه خطر خواهد انداخت .

چیلرتاکیدکرد کــه چاره جزائتلاف باحزب مادروطن وجود ندارد.

دیوې لنډی

دي ورووستیو ورځوکي دکابل حکومت دنوموړي سراي له دوکاندارانوته دسلو، سلوملیونو افغانیو دضمانت داخیستلو په بدل کي دسراي شازده دبیا پرانیستلو او دبهرنیو اسعارو دتبادلي په دغه لوي مارکیټ کي دکاروبار پیل کیدو اجازه ورکړي ده .

رپوټونه وائي چي دکابل دحکومت دورووستې پریکړي پراساس اوس یودوکاندارکولاي شي چي په سراي شازده کي دخپل کارله پیل څخه وړاندي ۱۰۰ میلیونه افغاني حکومت ته تضمین ورکړي اوله هغې وروسته په دغه سراي کي داسعارو دتبادلې کارپیل کړي .

روسان له څلورو ورځو را

دانګوشتیا رسمي مقاماتو زیاته کړي ده چي دروسیې دیرغلګرپوځ دډزوپه نتیجه کي دانګوشتیا شپږولسي خلك وژل شوي اواوه تنه نورټپیان شوي دي.

دانګوشتیا دجمهوریت جمهوررئیس رسلان خوشوف ویلي دي چي : دروسیې اوسني واکداران هڅې کوي چي دچیچنیا دجګړي لمن لاپسې پراخه کړي .

رسلان خوشوف زیاته کړي ده چي :دقوي په زور دچیچن دجګړي دختمولو په باب دروسیې روش بوبوج خیال اولیونتوب دي نوموړي دچیچن دجمهوریت دآزادي غوښتونکومبارزینو دمشرجوهر دودایف په شمول ټول ارخونه ئې مذاکراتواودخبروکولوته راوبلل همدغه شان دانګوشتیا دجمهوریت لوړرتبه مقاماتو دروسیې عسکرو دورووستیو ډزوپه اړه روسیې ته په ډیره سخته لهجه ویلي دي چي که چیري دروسي عسکرودغه تیري دوام پیداکړي په دغه سیمه کي به ډیرخطرناك حالات رامینځ ته شي چي مسئولیت به ئې دروسیې دواکدارانو په غاړه وي .

دیوبل خبر له مخي ویل کیږي چي : دانګوشتیا دمشرانوداخطار نه وروسته دروسیې ددفاع وزارت دانګوشتیا پولي باندي دروسي عسکرو ددرندو وسلو دډزوخبره ردکړې دي.

دهمدي خبرپه قول ویل کیږي چي : اوس دروسي یرغلګر عسکر دچیچن دجمهوریت په دښته کي په هغومحویلخانویاندي خپلو حملوته دوام ورکوي چي دپخواني شوروي اتحاد په وخت کي په کي اتومي وسلې زیرمه کیدي اودغه تحویلخاني اوس دچیچن دآزادي غوښتونکو مبارزینوپه مرکزونواوسنګرونوبدلي شوي دي.

په جلال آباد

رپوټ زیاتوي کله چي داکسان دمدرسي انګرته ننوتل محافظین یې دتفنګچې په زور ایسارکړل او (۹۵۰) میلیونه افغاني یې لــه ځان سره وړي دي .

په رپوټ کي داهم ویل شوي چي دنامعلومه غلو او محافظینو ترمینځ په نښته کي یوتن هم دتفنګچې پـه ډزو وژل شوي دي .

قاضي محمدامین «وقاد» اوملګري یې اوس ددي نامعلومه غلو دپیداکولو په لټه کي دي چي ترپیښې وروسته له هغه ځایه تښتي دي .

رپوټونه وایي قاضي وقاد او نژدې ملګرو یې ګومان درلود چي مدرسه ددي پیسودساتني لپاره یو محفوظ مقام دي اوځوك پري شـك نشي کولای، خوددوي داګومان ډیرژرغلط وخوت .

پایپ لاین انتقال

قرارګزارش ماموران بااستفاده از ۵۰ دستګاه ماشین آتش نشاني درتلاش براي خاموش نمودن آتش هستند ولي تاکنون ګزارشي ازکنترول آتش دریافت نشده است

شهرکابل راکت

ازسوي دیګرطیارات جنګي دولت نیز روزګذشته مواضع ګروه طالبان رادرمنطقه چهارآسیاب بماران کردند .

وزارت دفاع کابل اعلان نمود بماران اخیرمرکز تعلیمي چهارآسیاب به تلافي پرتاب راکت هاي چندروزاخیر صورت ګرفته است .

منبع افزود طي این بماران ۱۲ تن ازافراد مسلح طالبان کشته وتعداد زیاد دیګرزخمي شدند که یکتن ازرهبران ګروه طالبان هنګام بماران این محل نیز حضورداشت .

قرارګزارش درجریان این بماري چند بم برمناطق مسکوني نیز اصابت نموده که خسارات وتلفاتي رابه بار آورده چندتن ازاهالي بي ګناه کشته ویازخمي شده وچندین باب منزل مسکوني نیز خساره مندګردید.

خبرتیا

دافغانستان دمحصلینواسلامي تنظیم

په پام کي لري دځوانانوعلمي اوفکري تربیې په اړوند یوتعدادسوالونه دحل دپاره وړاندي کړي چي لومړي درجه بریالي ته (۱۵۰۰)، دوهم درجه ته (۱۰۰۰) اودریم درجه ته (۵۰۰) کلداري انعام ورکول کیږي . مینه وال کولاي شي چي دمحصلینودمرکزي دفترڅخه دا سوالونه د۱۳۷٤/۱۲/٦ څخه تر ۱۳۷٤/۱۲/۲٦ پوري ترلاسه کړي او د۲۰ ورځوپه دوران کي ځوابونه تحویل کړي .

پته : شمشتو - نصرت مینه دجنوب غرب حویلي ترڅنګ دپخواني ترانسپورت سره دمحصلینو مرکزي دفتر.